ډاکټر قدرواحد (سمندریوسفزی)
لیکچرار پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون۔

# د نظم په هئیت کښې د ډاکټر راج ولي شاه خټک کړې تجربې

# Dr. Raj Wali Shah Khattak's Experiments in the Structure of Poems

**Dr. Qadar Wahid**
Lecturer Department of Pashto University of Malakand.

**ABSTRACT**

Dr. Raj Wali Shah Khattak is a well-known and reputable figure of Pashto Literature. Being Director of Pashto Acedmy, he has written many books and articles in the field of research and has published them time to time. "Adabi Tehrikona", "Da Rahman Baba Pa Sher", "Ghani Khan da rang aw nor shair", etc are among his published research efforts. Dr Raj Wali Shah Khattak was a poet as well and has published his poetry collection in 2012 under the title of (Sangzaar). In this book he has given vent to his emotions and feelings through many famous mediums of Pashto Literature. The distinctive feature of this book is that Dr. Raj Wali Shah Khattak has carried out multiple experiments in the genre of poem. In the light of those experiments he has made valuable and knowledgeable contributions towards the formation of new types and kinds in the genre. For example he has concluded free verse poems (Azad Nazam) with the common Pashto Lok couplet (Tappa). These kinds of experiments are new to Pashto Literature and therefore the origin of these achievements is none other Dr. Raj Wali Shah Khattak. How well are these new experiments carried out in the genre of Poem? How far had he been successful in carrying out those experiments are the main objectives of my research.

**KEY WORDS:** *Dr rajwali shah khattak, genre, poems, experiments, free verse, lok couplet, tappa, sangzaar, ghani khan,azad nazam.*

ډاکټر راج ولي شاه خټک په پښتو ادبي نړۍ کښې یو داسې نوم دے چې د څه تعارف او تعریف محتاج نه دے. اروابناد زمونږ نه په یویشتمه

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, Issue IV, (October to Decmber2021)**

جولائی ۲۰۱۵ء (د دري شپېته کالو په عمر کښې) لاره جُدا کړه او د دې فاني دنیا نه ئې سترګې پټې کړې – ولې هغوي چې په پښتو نظم او نثر کوم معیاري لیکونه پرېښي دي، هغه به د هغوي نامه د پښتو ژبې او ادب په تاریخ کښې تل ژوندی ساتي. د ډاکټر راج ولی شاه د لیک اصل اړخ څېړنه (تحقیق) دے چې پکښې ئې د تخلیقیت خواږه په داسې انداز ورګډ کړي دي چې لوستونکی ئې ډېر په خوند او شوق لولي او دغه وجه ده چې د هغه د نثر ځانګړے اسلوب د هغه په تحقیقي لیکونو کښې هم جوت دے. ادبي تحریکونه، د رحمان په شعر، روهالوجي، د رنګ او نور شاعر غني خان او دغسې نور ګڼ نثري آثار ئې ادبي او علمي زیارونه دي. چې د پښتو ژبې او ادب د طالب علمانو په لار کښې د روښانه مشالونو حېثیت لري. ولې د نثرنګار نه علاوه د هغه یو بله پېژندګلو هم ده او هغه د یو ښهٔ شاعر په حېث. د "سنګزار" په نوم د شعري مجموعې شائع کېدل دي. چې پکښې ئې زیات رجحان د نظم په لور جوت دے. ولې ښه غزل ئې هم لیکلے دے او ورسره ورسره پکښې ځائې په ځائې قطعات هم په نظر راځي. ؎

اخستے شپې نه یم خو شپې راوستم
د زړه تېرو تر مېکدې راوستم
ما د ثواب په خاطر پرېښو ثواب
د خپل شعور عذاب تر دې رواستم[1]

د ارواښاد ډاکټر راج ولي شاه خټک د شعري سنګزار په حواله م.ر. شفق وائي:

'' د سنګزار په باب له دومره خبره ضرور کېدے شي چې د خورو ورو موضوعاتو باوجود د راج ولي شاه خټك شاعري یوه خانه کښې نه ده بنده، بس

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, Issue IV, (October to Decmber2021)**

ژوند او مینه پکښې غاړه غړې لیدے شي. او که هره موضوع ئې رانیولې ده. د شاعرۍ ریښتونے روح ئې نه دے ازار کړے. دا د ویښ شعور، ژوبل احساس او خوږمن زړۀ شاعري ده. خو شاعر یو ذمه وار، د خپل عصر نمائنده او یو حساس پوهاند دے. نو د شعوري عمل دخل په اثر ئې خفه ماحول او ویرژنه فضاء کښې د امید د سحر وړانګې هم منعکس کړي دي.'' [۲]

د ژوند د لارو درته څه اووایم
لکه د مار په ملا چې پښې ږدم څمه
چرته چې کُفر دے اقرار د مینې
په داسې کلي کښې زړه پرېږدم څمه
څم که په ورکه بې نشانه منزل
په هر یو پل درته ډیوې ږدم څمه [۳]

د ژوند او مینې دغه غاړه غړې احساس د "سنګزار" په پاڼه پاڼه خور دے. مینه د خپلو وسعتونو په مدار کښې ورکه او ژوند د خپل ځنګل ځنګل خیالونو نه بې پرواه لکه د ځنګلي بوټو ارتقاء مومي. ولې د دې په بل اړخ د ډاکټر راج ولي شاه خټک غوندې د لوړ فکر خاوندان د مینې لو لور خپله د ژوند وظیفه ګرځولې ده. څوک چې ژوند د خپل تېز تنقیدي او تحقیقي قلم په څوکه تهذیب کوي. ډاکټر راج ولي شاه خټک په دغو استاذانو کښې یوه ښکاره پېژندګلو لری. د هغه خیال پاک، فکر سپېڅلې، شعور روڼ، سترګې د ښائست ائینې او د خولې خبرې ئې ملغلرې وې. د خیال دغه پاکېزګي، د فکر دا سپېڅلتیا او دغه روڼ شعور ، هغه ته ځکه حاصل دے چې: ؎

زه د خیال تېزاب پېدا کړم خیال پرې

وینځم
پس له هغې دې نوم اخلمه په خیال کښې
زه د اور په لمبو پاک کړمه خپل فکر
بیا ئې ستا د توجه د در گدا کړم
زه شعور ته د نمرونو چینې کورم
آئینې ئې ستا د نوم د یاد د نور کړم
زه د گل له پاڼو غونډ کړم څاڅکي څاڅکي
د شبنم په اوښکو خپلې سترگې و ینځم
ستا د در خاورې د خیال لپه کښې واخلم
سر او مخ وربانديې پاک کړم له داغونو
مُشک عنبر د تخیل له غرونو راوړم
خوله پرې اووینځم چې ستا نامه پرې اخلم
تصور د تصور په زمزم پاک کړم
سپېلنے کړمه هستي ورته لوگے کړم
بیا هم نه ښکاري جوگه راته دا ژبه
چې ستا نوم وربانديې واخلم محمدهؐ
خو ستا نوم وربانديې اخلم محمدهؐ[٤]

پورتني شعرونه د " ډاډ " نومې نعتیه نظم دي، چې د مقصد او معنٰی له رویه ځانگړې سپېڅلتیا لري. او د فن په لحاظ یوه نوې تجربه ده. په شعري اصطلاح کښې نعت هغه نظم وي چې

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, Issue IV, (October to Decmber2021)**



پکښې د آخري نبی حضرت محمد ﷺ مدح (ستائینه) بیان کړے شوې وي. لکه د حمد غوندې نعت هم موضوعاتي صنف دے ، چې په هر شعري چوکاټ کښې لیکلے شي. ولې زمونږ شاعر ډاکټر راج ولي شاه خټک د نظم ددې صنف په فني چوکاټ کښې نوې تجربه کړې ده. ددې نظم پورته ورکړی شوې مصرعې د معرئ نظم دی. چې بحر او وزن ئې يو دے خو قافيې نه لري. ولې ددې دويمه برخه د قافيه لرونکي يا پابند نظم په صورت کښې ده. چې د اولنۍ برخې سره په وزن او بحر کښې يو شان دي خو هرې دوه مصرعې ئې هم قافيه دي. لکه: ؎

چې ستا نوم وربانديواخلم محمدہؐ
خو ستا نوم وربانديواخلم محمدہؐ
ته رؤف ئې ته رحيم ئې ما به
معاف کړې
په يوه نظر به ما له ګناه
صاف کړې
بې له تا خو زما
بله اسرا نشته
بې له تا مې د هستۍ څه معنیٰ
نشته
ما د اور نه، د
تيرو نه رابهر کړه
د صحيح ادراک په کور
مې بهرور کړه
ستا د در خاکروب په خاورو خړ مسرور کړه
ما د خپل در د ګدا
په طور منظور کړه
د شاهۍ له
دربارونو مې بې نياز کړه
ما د حق د

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, Issue IV, (October to Decmber2021)**


مستانه نعرې اواز کړه °

د مضمون په لحاظ د "ډاډ" نظم دا ورستۍ برخه په مناجاتي انداز کښې ده. د نظم د هئیت په چوکاټ د فن په لحاظ دا رنګ تجربې د راج ولي شاه خټک صیب په شاعرۍ کښې د ابتداء نه رارواني دي. په دې حواله هغه شعوري کوشش کړے دے چې د روایت له غېږې د نظم په اصنافو کښې د جدیدیت په لور نوې تجربې وکړي. او زما په خیال دغه تجربې ئې کامیابې هم دي. ولې چې دا تجربې لوستونکیو خوښې کړې هم دي او خپلې کړې ئې هم دي.

'' په ۱۹۸۰ء کښې پښتو اکېډمۍ په خپله مجله پښتو کښې د ازاد نظم یو تجرباتي نمبر شائع کړو. په دې مجله کښې په وړومبي ځل ډاکټر راج ولي شاه خټک ازاد نظم په داسې انداز کښې لیکلے وو چې د نظم اختتام په ټپه شوے وۀ. ددغه نظم په حقله په ټپه ایز کښې لیک دي چې. د ټپې او ازاد نظم د یو بل سره مشابهت ثابتولو دپاره د پښتو یو ځلمي شاعر او ادیب راج ولي شاه خټک څه موده مخکښې تجربه وکړه. د هغه یو ازاد نظم چې مجله ازاد نظم نمبر کښې چاپ شوے دے. په دے الفاظو ختمېږي:ـ

یو اواز شي یو پېغام شي
د وطن هر یو ځلمي ته
هر پښتون هر ننګیالي ته
د ملالې په خوله وائي
که په مېوند کښې شهید نه شوې
خدائیګو لالیه بې ننګۍ له دې ساتینه
د راج ولي شاه خټک په نظم کښې دې

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, Issue IV, (October to Decmber2021)**

کامیابي تجربې یو بل ځلمي شاعر سهېل خټک داسي متاثره کړو چې د هغه په مختلفو موضوعاتو لیکلي ازاد نظمونه چې اختتام ئې په ټپه شوے دے د "ټپه ایز" په نوم شائع کړل. د نظم په مېدان کښې د ټپې سره د ازاد نظم تړون یو نا اشنا او خوندوره تجربه وه چې خلق ورته متوجه شو''[٦]

د نظم او ټپې د تړون دا تجربه ډاکټر راج ولي شاه خټک صېب په "یاد" او " احساس" تر عنوانه لیکلي نظمونو کښې هم کړې ده. د "یاد" نظم آخري مصرعې ئې څه په دې ډول دي:ـ

زه د قسمت د فېصلې سره جنګ څنګه وکړم
لویه دنیا ده ویړ منظر دے
خو چې ته نه ئې نو
زه د هستئ جنګریز کښې یاره بل په څه
ډاډه یم
خو ستا د یاد جوګه یم
نو .....
د پټو سترګو قسم نه خورم
څومره چې سترګې غړوم تا یادومه [٧]

دغه رنګ د "احساس" نومي نظم په فني چوکاټ کښې هم ټپه ځائے کړې شوې ده. او د نظم اختتام په ټپه شوې دے. دغه تړون څه دا رنګه دے: ـ

احساس
کله چې راشي وریځې ګورې ګورې
یخه سیلئ په سمه غر چلېږي
شوربېږي اونې بوټي یو خوا بل خوا
ځاځکي په تیږو د غونډیو وریږي
لړې خورې شي ګړنګونه پټ کړي
کله رڼا کله تیاره خوربېږي

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, Issue IV, (October to Decmber2021)**

چې په شېبو شېبو باران شروع شي
غرا، تناوي تندرونه پرقي
په زور او شور كښې رابهيږي ناوې
غټې پلوسې يو خوا بل خوا ړقي
ژوند معطل شي خلق لاړ شي كورته
هر څه خاموش او تنبې ړقي شرقي
د تنهائۍ د اذيت ملګرې!
ماته راياده شي دا ستا لېونۍ مينه [٨]

مطلب دا چې د ټپيزې د صنف اولنۍ نخښې نښانې مونږ ته د ډاكټر راج ولي شاه خټک په شاعرۍ كښې په لاس راځي. يعنې ددې صنف اوله تجربه هغه د ازاد نظم او ټپې د ترون په صورت كښې كړې وه. چې بيا وروسته د مختصر نظم په صورت كښې قافيه دار يا پابند نظم په رنګ اوليكلې شوه. چې نن ورځ پكښې شعري مجموعې هم چاپ شوي دي. او د موسيقۍ په لار هم اورېدونكو ته رسېدلې دي.

د ازاد نظم او ټپې د ترون د تجربې او د معرئ او پابند نظم د ترون د تجربې نه علاوه ډاكټر راج ولي شاه خټك په "مېرمن" نومې نظم كښې د پابند نظم اود قطعې د ترون تجربه هم كړې ده. ددغې نظم د دغه ترون مصرعې څه دا رنګه دي:ـ

په جفا مرې په وفا باندې سنګسار ئې
ته د ژوند د ډرامې څه رنګه كردار ئې
اے د مينې د ژوندون د ښائست رنګه
ستا په غاړه لونګين دے كه په دار ئې

..................

بې له تا په

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, Issue IV, (October to Decmber2021)**



ژوندانه کښې معنٰی نشته
خو لوستلی لا چا نه
ئې یو اسرار ئې
یو وجود یو آئینه او
ډېر عکسونه
کله مور ئې کله خور او
کله یار ئې
ستا په سترګو کښې د ژوند د معنې راز دے
ته یو وار
سترګې راواړوه
سرداري
بې له تا تیرې دي ټولې
د ژوند لارې
کړه اسانې د هر چا د
خاطر چارې[۹]

د دې نه علاوه په یو بې عنوانه نظم کښې ئې پوره مضمون په دوؤ هائیکو کښې بیان کړے دے. چې د مختصر نظم د فن په هئیت کښې یوه ځانګړے تجربه ده:ـ

ځومره نیمګړې نیمه
خوا ده مینه
ستا د منزل لارې
بې شانه اوږدې
زما اوس هغه د
زړه زور نشته

که مدعا د دې
دنیا ده
مینه
هغه دے ورک د خپل کاله
په کوځه
چا چې د زړۀ په کور کښې
کور نشته[۱۰]

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, Issue IV, (October to Decmber2021)**



د نظم په هئیت کښې د اروا ښاد ډاکټر راج ولي شاه خټک د نوې تجربو په حواله ډاکټر سلمٰی شاهین وائي.

'' د جدید دور په جدید نظم لیکونکو کښې د هئیت د تجربو په لحاظ هم او په نظم کښې د نوي موضوعاتو او نوي انداز له کبله ډاکټر راج ولي شاه خټک په خپل هم عصره شاعرانو کښې منفرد مقام لري.''[11]

په "سنګزار" کښې ټول درې څلوېښت نظمونه دي. چې پکښې دوه دېرش ازاد او لس پابند/معرئ دي او یو نظم پکښې د دوؤ هائیکو په ترون روغ شوې دے. د نظمونو د شمېر نه اندازه کېږي چې د ډاکټر راج ولي شاه خټک طبع ازاد نظم ته ډېره برابر وه. او د خپلو جذباتو او احساساتو د اظهار دپاره ئې د نظم په اصنافو کښې ازاد نظم زیات خوښ صنف وو. ولې همېش خلیل ئې د یو ښه غزل ګو شاعر په حېث ستاینه کوي او په شاعرئ کښې د تخلیق په معیار پوره ورته صرف د هغه غزل ښکاري. په '' پښتانه لیکوال'' نومې کتاب کښې همېش خلیل لیکي:ـه

'' په حېثیت د شاعر " ولي" یو داسې شاعر دے چې د پښتو غزل سره په نزدیکت د خپلې وجداني شاعرئ له مخه ئې پښتو غزل ته تر ډېره حده یو وقار ورکړے دے. د دوي د شاعرانه فن په نورو صنفونو کښې هم د فکري او جمالیاتي حسن رنګ موجود دے. خو "ولي" بنیادي طور د غزل شاعر دے. ''[12]

ددې خبرې برعکس د "سنګزار" مجموعې په سریزه

کښې آياز داودزے هغه د يو ښه نظم ليکونکي شاعر په حېث معرفي کړے دے. دغه وجه ده چې د "سنګزار" د دغه سريزې په پانو تولو خبره د ډاکټر راج ولي شاه خټک د يو ازاد نظم "منزل" نه چاپېره چورلوي.

''د دې مجموعې يو نظم " منزل" که د ناتمامه مزل قيصه ده. که د تکميل ذات د لټون داستان دے، خو دغه قيصه ، دغه داستان د طبيعاتي چاپېرچل نه قدم پورته کوي او لاهوتي جهانونو ته، چې هيڅ بريدونه او هيڅ سرحدونه نه لري (بريدونه او سرحدونه څه، چې د جهتونو نه هم ماورا دي) د رسېدو د هڅې يو بريالے تکل دے.''[۱۳]

بهر حال ډاکټر راج ولي شاه خټک غزل هم ليکلې دے او نظم هم، او مريدی کښې زده کړے دے. نو د نظم اوستاد ئې د شلمې صدۍ ستر فلسفي غني خان دے.

په "سنګزار" کښې يو شمېر آزاد نظمونه دي چې پکښې ئې ژبه ساده، روانه او انداز فلسفيانه دے. د فني تجربو سره سره په موضوعاتي لحاظ هم د ډاکټر راج ولي شاه خټك د نظمونو نفس مضمون نوے دے. غړ، منزل، تجريد، شاعر، رڼا، وهم، تنهائي، وجود او اقبال، سوال، ياد، تماشه، وجود، معنٰی، د يوه نظر په طمع، وخت، ورک، احساس، زخم، غلا، حجاب، علاج، کنځل، خپل عصر او دائره ئې انتخاب نظمونه دي. چې مونړ ئې د مشرقي شاعرۍ د معياري نظمونو په شمېره کښې ډېر په وياړ شاملولې شو.

په دغه ازادو نظمونو کښې، جانانه (تاج اکبر اپريدے) ، خوشحال خان خټک، غني خان ته، او د قلندر مومند په مرګ موضوعاتي نظمونه دي. چې د يادو شخصياتو د لوړ کردار اعتراف پکښې شوې دے. او په قدر او احترام ئې ياد کړي

دي.

ددي نه علاوه يو آزاد نظم " زما دپاره" داسې هم دے چې د انګرېزی ژبې نه ترجمه ده. دغه ترجمه هغه د خپل زوي مساز خټک د يو انګريزي نظم کړې ده. که هر څو آزاد نظم ازاد دے ، خو د "لی" او "آهنګ" په دائره کښې بيا هم پابندي لري. نو په دغه حساب د ازاد نظم د يوې ژبې نه بلې ژبې ته منظومه ترجمه کول څه اسان کار نه دے. ولې ډاکټر راج ولي شاه خټك دغه منظومه ترجمه داسې په روانی او ښکلي انداز کښې کړې ده، چې د ترجمې پرې ګمان هډو نۀ کيږي. لکه ددغه نظم څو مصرې داسې دي چې:ـ

ته يو پړق د ذوالجلال ئې

زه د دغه پړق يو سيورے

ځان رانيسمه خو نشي

که رشتيا وي چې څه اورم

بابا هېر مې ګورئ نکړې

له ازله تر ابده

يادوه مې په دُعا کښې [۱۴]

په معرئ او پابند نظمونو کښې هم ډاکټر راج ولي شاه خټك تجربې کړي دي. ولې دغه تجربې ئې دومره د توجو وړ ثابتې نه شوې. او نه هغه خپله دغه تجربې بيا بيا تکرار کړي دي. د غزل په رنګ پابند نظم هم يو ځانګړے معياري صنف دے چې د زمانو نه ئې وجود قائم او دائم دے. چې

زما په خیال د ډاکټر راج ولي شاه خټك د دې صنف د هئیت په چوکاټ دغه نوې تجربه ددې صنف د فني وجود سره سمون نهٔ شوري. په پابند نظمونو کښې هغه زیات تر غزل نما نظم لیکلي دے. چې پکښې "د حمزه شینواري په مرګ"، "وهم" ، او "زهٔ"، د یادونې وړ نظمونه دي. په دغه نظمونو کښې "کلے" نظم یوه منفرده تجربه ده، چې په لنډ بحر کښې لیکلے شوے دے. نن سبا د لنډ بحر تجربې په غزل کښې زیاتې شوي دي ولې ډاکټر راج ولي شاه خټك دغه تجربه په غزل نما نظم کښې کړے ده. ددغه نظم څو مصرې دا رنګ دي:ـه

دلـــــــــــــربا کلـــے دے

د اشـــــــــــنا کلـــــے دے

زهٔ مســــــــــــافر یـــــــــــم

نـــــــا شـــــانـــا کلے دے

تیرې دي ښار کښې

د رنـــــــــــا کلــــــــــے دے

ډیـــــــــــر بخــــــــــتور دي

چـــــې د چـــا کلے دے [۱۵]

ډاکټر راج ولي شاه خټک د یو زبردست شاعرانه قدرت مالک وهٔ. هغه چې د نظم د کوم نوي فورم بنیاد کېښودے دے. هغه به د پښتو د لوستو او تعلیمیافته شاعرانو دپاره د پېروی سبب وګرځي. هغه چې څه وئیلي دي په هغې ئې

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, Issue IV, (October to Decmber2021)**

يقين هم لرلے دے. او چې څه ئې کړي دي په هغې کلک ولاړ هم پاتے شوے دے. اکثر داسې وشي چې مسلسل تحقيقي رياضت شاعرانه تخليقي قوتونه کمزوري کړي، څکه خو څينې خلک تحقيق او تخليق ته د بنتون تصور هم کوي ــ ولې د ډاکټر راج ولي شاه خټك د "سنګزار" په لوستو او بيا خاص کر د هغه د نظمونو د مطالعې نه پس سړے وئيلے شي چې د هغه عالمانه شخصيت او محققانه عمل د هغه شعر ته نوره ځلا او لا زيات وقار او درانه بخښلي دي.

❖❖❖❖

حوالې

---

١.خټک، راج ولي شاه، سنګزار، يونيورسټي پبلشرز پېښور، ستمبر ٢٠١٢ء، مخ: ١٥

٢شفق، م-ر ، سنګزار، د ډاکټر راج ولي شاه خټک، يونيورسټي پبلشرز پېښور، ستمبر ٢٠١٢ء

٣ خټک، راج ولي شاه، سنګزار، يونيورسټي پبلشرز پېښور، ستمبر ٢٠١٢ء، مخ: ٣٢
٤ هم دغه کتاب، مخ: ١٨
٥ هم دغه کتاب، مخ: ١٩
٦ شاهين، سلمٰی، پروفېسر ډاکټر، جديد نظم په پښتو کښې، جدون پرنټنګ پرس، ٢٠٠٣ء ، مخونه: ٤٣٦ او ٤٣٧
٧خټک، راج ولي شاه، سنګزار، مخ : ١٤٩، ١٥٠
٨ هم دغه کتاب، مخ: ١٤٨

٩ هم دغه کتاب، مخ: ١٥٥
١٠ هم دغه کتاب، مخ ١١٣

ISSN(**Print**): 2709-9636 | ISSN(**Online**): 2709-9644
**Volume 2, Issue IV, (October to Decmber2021)**

۱۱ شاهین، سلمیٰ، پروفېسر ډاکټر، جدید نظم په پښتو کښې، مخ: ۴۳۵
۱۲ خلیل، همېش، پښتانه لیکوال دویم ټوک، یونیورسټي پبلشرز پېښور، ۲۰۱۱ء، مخ: ۲۷۱
۱۳ داودزے، آیاز، سریزه، سنګزار، د ډاکټر راج ولي شاه خټک، یونیورسټي پبلشرز، ۲۰۱۲ء، مخ: ۱ او ۲

۱٤ خټک، راج ولي شاه، سنګزار، مخ: ۷۶

۱۵ هم دغه کتاب، مخ: ۱۹۷